مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: شهید محمد موسی شفیق
رالیږونکی: فضل الرحمن فاضل

۲۰۲۲/۰۱/۲۳

# عبقریان
# او
# نورې قصې




(1)

ډاکتر صاحب د یوروپ نه راستنیده نو دایې د ځان سره غوټه کړې وه چه ضرور به د خپل وطن یوه پیغله واده کوی، دده په نظر کښې خارجی ښځه کول اساساً د ملیت پرستۍ د مفکورې سره چندان برابر نه وو، ده به حتی لا په یوروپ کښې همیشه خپلو ملګرو ته ویل: تاسې چې دلته ښځې ګوئ هغه زمونږ په وطن کښې ناستې تعلیمافته ښځې نجونې نو چاته د پلو لاندې کوځې لویوی، برسیره پر دې ډاکتر صاحب به پدې خبره هم ځان قانع کړی ؤ چې دده هېواد او د یوروپ د ثقافتونو بنیادونه سره دومره زیات توپیر لرې چې که دوه کسه ددغو دوو بیلو ثقافتونو په غولې کښې لوی شوی وی د هغوی به د فکر طرز، د معیشت لار، دعواطفو او احساساتو مجری او د هغوی په نظر کښې به د اجتماعی اساساتو د تقدیر او اندزه کولو دومره فرق وی چه د هغوی روحی او عاطفی یووالی ورسره بیخی نا ممکن ښکاری، دغه روحی او عاطفی یووالی د ډاکتر صاحب په عقیده د ښځې او میړه کیدلو دپاره یو بنیادی ضرورت ؤ، په همدی باره کښې ډاکتر صاحب یوه بله د قیقه ملاحظه هم درلوده، ده ته داسې ثابته شوې وه چې د یوروپ خلک چې د شرق نوم واورې د ورایه یې هغه خیالی دنیا په سترګو کښې ګرځې چې خواږه خواږه خوبونه پکښې رینښتیا کیږی. ده چې کله کله د ځینو نجونو سره خبرې کړې وې دا ورته معلومه شوې وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې هغوی د (الف لیلة) په سترګو د شرق ملکونو ته ګوری، هغوی د یوروپ د مدنیت جلوو دومره سترې او مړې کړې وې چې اوس یې د یو نوي او یو مختلف او مخالف محیط توصیف او تعریف ته، خولو اوبه پریښودی مګر د شوق ذوق، دغه وراخطایي او بی صبری د شرق په کوم رګ کښې د یو څو لږو میاشتو د تیرولو نه وروسته مرې، بیا نو د یوروپ نازولی لور د خپل خوب او خیال د خوږی دنیا نه د حقیقت میدان ته راکوزه شې، هغه جنت یې په دې میره بدل شې، دلته یې تازه دې خبرې ته پام شي چې د میړه د وطن خلک ددې په ژبه خبرې نه کوي، ددې غوندې فکر نه کوی، ددې غوندې خوراک څښاک نه کوي د میلمنو او خپلوانو سره یې روابط د هغه څه نه څه ده ورسره اومخته ده ډېر زیات توپیر لری، دلته ځان مجبور ګڼی چې د میلمنو سره د هغومره تود وضعیت او اختلاط نه ځان وساتی څومره چې دی ته د پلار په کله کښې یو اجتماعی ضرورت ښکاره کیده، بالعکس دلته د میړه د مشر وررور، د هغه د پلار، د تره او نورو مشرانو ښځو او نارینه ؤ دومره ادب او احترام وکړی چې کله کله یې بیخی ملا ماتولو ته نژدی کوی، دلته باید دی ته هم تیاره وی چه میړه به یې ډېر ځله یوازی د نارینه وو مجلس جوړوی او د خپلو نارینه دوستانو سره به دومره نژدی په تماس کښې وی چې او داسی وضع به ورسره کوی چې د نفسیاتو یو سودایې عالم حتماً په سودا کښې اچوی او د غیر طبیعی علایقو ګومان وربانذی کوی.

(2)

وطن ته د ډاکټر صاحب د بیرته راتلو نه اوس زیات او کم درې میاشتی تیری شوې دی، چه په یوروپ کښې ؤ نو د خپلو وروستو پنځو کلونو په استوګنه کښې ورته دا ضرورت ډېر محسوس شوی ؤ چې باید د خپل هېواد د ثقافت نه پورا خبروي، ده هلته ولیدل چې په خلکو دی خبری چندان تآثیر نه کاوه چه ده به ورته د فرانسی د لوی انقلاب په باب کښې څه ویلی شو یا به یې ورته د یوروپ د فلسفه ؤ نومونه صحیح تلفظ کول او د هغوی په باب کښې به یې ورته معلومات ورکولی شو، دا خبری هغوی ته دده نه ښې یادې وې، هغوی غوښتل چې دده وطن د تاریخ، جغرافیی، حقوقو د فکر طرز او د ژوندانه د فلسفی په باب کښې د خپلو معلوماتو خزانه زیاته کړی، هغوی د لامارتین د قصیدو نه پوره خبر وو مګر د جامی او خوشحال خان په باب یې دومره څه نه وو اوریدلی چه تنده یې پری ماته شی.
هلته ډاکټر صاحب د (هغه وخت شاګرد) په دی پښیمانه شو چې ولی یې د پښتو او دینیاتو معلم صاحبانو ته هغومره غوږ نه ؤ ایښی چه د غرب د فلسفی ښوونکی ماسټر او پروفیسور ته یې ایښود، د ډاکټر صاحب ښه په یاد دی چې یوه ورځ یې د خپلو همزولو او ملګرو سره په پوهنځی کښې خبری کولی او خبره په صادراتو او وارداتو راغله، ده د انګلستان صادرات او واردات چست وښودل مګر د خپل ملک ورته فقط یو څو مشهور مشهور معلوم وو او نور یې څه ونه شو ویلی.
ددی نیمګړتیا وو د پوره کولو د پاره ډاکټر صاحب د یوروپ په کتابخانو کښې د خپل وطن په باب مطالعه وکړه او ګویا د لاس غوټه یې په خوله ایله کوله.
په مطالعه کښې ده ته د یو مستشرق احساس پیدا شو او بالاخره یې د ځان سره غوټه کړه چې د خپلی ډاکټرۍ رساله هم په خپل ملک کښې د ځینو ثقافتی مسایلو او اساسو نه په تحول او تطور سره باندی ولیکې او مخصوصا هغه مستقل عناصر بیان کړی چې ده ته په خپل ثقافت کښې مهم ښکاریدل او دده وطن ته یې یو ممتاز او بیلوونکی صفت ورکړی ؤ.
رښتیا رښتیا او دروغ دروغ وی، ډاکټر صاحب چې هم یې ښه درجه اخیستی وه او هم یې ځان د خپل وطن په باب کښې پوره ملا کړی و، نو په ځان یې اعتماد زیات شوی ؤ او د خپلو نورو ملګرو په پرتله یې په خپل ځان باور زیات و، غرور خو ورته سړی نشی ویلی مګر پرځان اعتماد او د خپل نفس نه رضایت یې بللی شو.
اوس چې ډاکټر صاحب په وطن کښې څو میاشتی تیری شوې دی نو د کور آبادولو فکر ورسره جدی دی، دی په دې ښه پوهیده چې دده په وطن کښې څه کلاسیک وسایل د ښځی د انتخاب د پاره موجودؤ مګر د یوروپ اتو کلونو ورته دا خبره هم ګرانه کړی وه چې اوس یو داسی څوک د خپل ژوندانه ملګری کړی چې بیخی ورسره نه پیژنی، پوښتنو پلټنو ډاکټر صاحب ته دا خبره ثابته کړه چې اوس اوس دده په ملک کښې د ښځی کولو دپاره د پخوانی او غربی میتودونو یو مخلوط استعمالیږی، څوک به پیدا کوی چې د شپی مجلسونو ته دی لار پیدا کړی بیا به هلته د جینکیو سره په خپله اشنا کیږی، بیا بل څوک پیدا کوی چې د مور او پلار سره یې خبرې وکړی او ممکنه ده په خپله د جینۍ سره هم همدغه څوک خبره غوڅه کړی ددې نه برسیره به د مشر کاکا، ابۍ او بابا د نظریاتو د ښه کولو د پاره هم څوک برابر وی.

(3)

ډاکټر صاحب د خپل ملک په پایتخت کښې اوسیږې، دا ښار هم دده د ملک د نورو ښارونو او علاقو او هم ددنیا د نورو ښارونونه ډېرو خواصو بیل کړیدی. اول خو داده چه دلته یو ډیر قوی طباقتی امتیاز موجود دی مګر د پردی لاندیی. په دې ښار باندی د غربی تمدن د ظواهرو یوه داسی چپه راغلی ده چې نور ټول معیارونه او مقیاسونه یې د ځان لاندی کړی دی د ژوندانه د تقلیدی او پخوانی نظام د ځینو اساساتو سوء استعمال او د هغی نه سوء استفادې په خپله هغه نظام د خلکو په نظر کښې بد کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا چې د ځینی نورو عواملو سره یوځای شوی نو یې ددې ښار اوسیدونکی د خپل ثقافت د بنیاد او د خپل ژوندانه د نظام د اساس نه، نه یوازی بیګانه کړی بلکه د هغه نظام او هغه ثقافت پرضد یې ددوی سره عجیبه بدبینی کرکه او تیښته پیدا کړی ده، د بره چه هرڅه راځی هغه ښه دی او دلته چه هرڅه شته هغه بد دی دا ددی ښار د اوسیدونکو د تفکر د طرز اساس دی او ډاکټر صاحب چه د بره تازه راغلی دی په همدې اساس ښه دی او هرڅوک یې قدر او عزت کوی که څه هم په خپله ډاکټر صاحب لا تر اوسه په دی سر پوره ندی پوهیدلی.

(4)

ماښام تیاره وه، د پاخه سړک اړخ ته چې کوم کورونه په ناموزون ډول قطار شوی دی د هغوی په منځ کښې د محبوبه جانی کور هم د څلورو نسبتا جګو دیوالونو د ننه پروت دی، محبوبه جانه اوس پنځوس کلنی ته ورنژدی شوی ده او دداسی یوې لویې کورنۍ لور ده چې یوه ورځ یې هر غړی مځکی ته ویل: (( ته څه او زه به بیا درځم)) محبوبه جانه بی شماره وریرونه، وریری، خوریونه، خورزی، د تره لونی، نمسی او دغه سی نور خپل خپلوان لری.
د میره د مرګ یې تقریبا شل کاله کیږی او د هغه نه ورته یو دوه کورونه پاتی شوی دی چې خارجیانو ته یې په کرایه ورکړی او ښایسته ښې پیسی ورته د میاشتی راځی. دا پیسی دومره لږی هم ندی چې محبوبه جانه ورباندی د یارانو دوستانو د جومی شپه ګرمه نه کړی شي، او دومره ډیرې هم ندی چې د هغوی سوغات تحفی او یونیم کومک نه ورباندی بیخی بی نیازه شي، یعنی ګویا د محبوبه جانی ژوندون د کور په کرایه ولاړ دی او هغه هم باید خارجیانو سره په کراوی او خارجیان خو اول د سره د محبوبه جانی سره چې په هیڅ خارجی ژبه نه پوهیږی نه بلدیږی او چه بیا کوم یونیم ورسره بلد هم شی نو هغه خو د ابد لپاره په دی ښار کې نه اوسیږې ضرور به ځی، ددی معنی داده چې تقریبا هر کال محبوبه جانی ته د خارجیانو د آشنایي مشکل تازه کیږی، ددی لپاره محبوبه جانی پیش بینی کړې چه ددوستانو آشنایانو په حلقه کښې داسی څوک هم شامل کړی چه هغه د خارجیانو سره نژدی رابطه او تعلق ولری، د خپلو خپلوانو نه هیڅ خیر نشته هغوی همیشه په خپلو خولو کښې ډوب وی او چه کومک دې تری وغوښت بیا ستا په کار کښې دومره مداخله کیږي چې په خپله خبره به دې پښیمانه کړي، نو ځکه د محبوبه جانی په کور کښې د آشنایانو دوستانو شمار همیش که د خپلو خپلوانو نه زیات نه وی کم هم ندی، د محبوبه جانی هم دا خبره په طبعه ډیره برابره لګیده چې د دوستانو آشنایانو حلقه ورنه تاو وی، صفت یې کوی سخاوت او ښه طبعه او کله کله یې جمال هم ستایي، د ښار نوي زړی ورته راوړی او د هری افواه هری خبری پیښي نه یې خبروی. ډیر خلک دی چې ددغه ښار په نسبتا تنګ محیط کښې بل ځای سره نه شي یوځای کیدلی نو هغوی هم دا غنیمت ګڼلی چې دلته سره ګوری، د هغه ځلمی هغه پیغله خوښیږی مګر بل ځای سره نشي راټولیدلی، دواړه کوښښ کوی چې محبوبه جانه وپیژنی او بیا د هغی د جومی د شپی په ټولنه کښې شریک شی هغه څوک چه غواړی جې د چا د نفوذ نه استفاده وکړی دواړه د محبوبه جانی ددربار لمن نیسی او مراد ته رسیږی، ځینی داسی د پاخه عمر معتبر کسان هم شته چې بل ځای نه شی کولی خپله تنده ماته هغه هم دغه دربار ته راځی.

(5)

هو! تیاره ماښام دی او زمونږ ډاکټر صاحب خپل خورا ښکلی کالی په ځان اچولی او د محبوبه جانی د کور پلو ته چه ده ته هم نه دی معلوم لکه د یوی مجهولی آینده خواته درومی، د تنګ پتلون تنګي پیڅی یې د ایټالوی بوټانو په ډیرو نریو څوکو باندی نیغی ور پریوتی، کمیس یې تک سپین له ورایه ځلیږی او د نیکټایي غوټه یې هم په آخرین موډ جوخته ده او هم یې د جرابو سره رنګ یو شان دی، د نسبتا توری دریشی سره ډاکټر صاحب یو نسبتا سپین واسکټ هم اغوستی چه ډیرې قیمتی ټنی ورباندی لګیدلی دی، د ډاکټر صاحب سر او صورت پخپله دده د یوروپ د اتوکلونو په هستوګنه شاهدی وایي، دده سره پخوا کښې چې کوم ملګری روان دی هغه په ښار کښې د هر چانه زیات خارجیان پیژنی او د هغوی د برکته د محبوبه جانی په دربار کښې د هر چانه معتبر دی، دومره معتبر چه حتی میلمانه یې پکښې عذریږی.
ډاکټر صاحب ته د لاری ملګری دومره ډیرې خبری د محبوبه جانی ددربار په باب کښې کړی وې چه هغه په مشکل کولی شو خپل وجد او شوق او بی صبری پټه کړی.
د لاری په سر هر ښکلی او ښایسته کور ډاکټر صاحب ته د محبوبه جانی دربار بریښیده او چه هره ښکلی پیغله یا نیمزالی به یې ولیده نو فکر به یې کاوه چې دا هم حتما هماغه دربار ته روانه ده، ړ بو څلور لاری کوزنی کونج ته یوه خړه دروازه وه چه بالاخره د ډاکټر صاحب ملګری ورستون شو او هغه یې وټکوله، ډاکټر صاحب چه څو د کور در او دیوال ته پام کیده بیا وردننه شوی و په دهلیز کښې یې د ساز او سرود آواز تر غوږه شو، معلومه شوه چې نن کومه خاصه میلمستیا ده.

(6)

ډاکټر صاحب چې محبوبه جانی ته معرفی شوی د هغی د سترې مشی او خواره مشی نه معلومه شوه چې د ډاکټر صاحب په باب یې معلومات لرل مګر دا معلومات څنګه چه ډاکټر فکر کړی و هغومره ډیر نه وو محبوبه جان او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هغې نژدې حلقه همدومره خبر وو چې د اورپا دیده ډاکټر دی او ښځې پسې ګرځي او بعیده نه ده چه د کومې ورېرې سره یې نصیب وشي.
مجلس ډېر ګرم و او ځلمي او پیغلې، د پاخه عمر ښځې او نر او حتی ځینې بوډګان او بوډۍ هم پکې وې، ښایسته مشهور سندر غاړې دا غزل غږ اوه:

بیا تاګل برا فشانیم ومی در ساغر اندازیم
فلک را سقف بشاګافیم وطرح نو دراندازیم

او چې پدې غزل کښې به یې هره نوې کړۍ اچوله، تا به وایې د مجلس سرګرمو نرو ښځو د شوق آسونه له بې متروکه ورکوله.
ډاکټر صاحب په یوه حلقه کښې کیناست، د ډېرو نجونو ورته پام شو لکه چې دده لا حال هغوی هم لږ او ډېرې خبرې وې، ډاکټر صاحب ته خدای شته د غرور یوه نیشه هم پیدا شوه، په دغه حلقه کښې حلقه کښې د محبوبه جانې یوه خور ناسته وه، چه څلور پنځه خو یې سکه ورېرې لرلې، د یوې ورېرې نوم یې هوسی و چه ۱۷ کلنه وه او ډاکټر صاحب ته مخامخ نژدې ناسته وه، هوسی ښایسته ښه مخ، ښه ویښتان او ښه اندام لاره، د غاړې جامې یې د پاریس په هغه پیشن برابرې وې چې د ډاکټر صاحب د راتلونه وروسته د کریستان ګنډونځی راویستلې و او نه یوازې د هوسی بلکه تقریبًا د مجلس د ټولو پیغلو او نیمزاولو جامې د هغې په اساس ګنډلې شوې وې.
د نجونو او ښځو د شنډو، د مخ، د لاسونو او سینو نه داسې معلومیده لکه چې د الیزابت اردن د کارخانې په کومه ذخیره ددې مجلس د ښځو لاس بر شوی وی، د وریځو ښکرونه د چا سم تللی وو او د چا کاږه، مګر ټولو بې استثناء په خپلو وریځو باندې د تور قلم وریځو ته ترجیح ورکړې وه، ډاکټر صاحب چه دغسې غلیظ ماکیاژ یوازې د پاریس په ځینو خاصو ځایونو کښې لیدلی و، نویې ابتداء په هوسی شک راغی او بیا یې چه ولیدل چه ټولې ۱۷ کلنې او حتی ۱۵ کلنې جینکې همدغسې په همدغه ډول وې، یوه شو چې سهوه یې کړې وه، دلته باید د پاریس کلیات تعقیب نه کړی، دا سودا هم ورته پیدا شوه چې ممکنه ده دده څو میاشتې پخوا پاریس به د اوسني پاریس نه توپیر پیدا کړی وي.
د قیمتي عطرونو تیزې او تندې رایحې فضا ډکه کړې وه، ډاکټر صاحب بیخي ګومان نه کاوه چه دی ګوندې په خپل وطن کښې دی، هغه وطن چې ده په فقر پیژندلی و او نن یې د هرې پیغلې او نیمزالې کمیس دده دوه درې میاشتو معاش پوره کوي.
دی لا پدې چرت کښې ؤ او د خپلې آیندې ورېرې اخیستې ؤ ناڅا په ورنا د هوسی ترور پوښتنه وکړه :
ډاکټر صاحب ستا معاینه خانه چیرته ده ؟
او چې ډاکټر صاحب ځان څواب ته جوړاوه هغې ترې نورې بې واره پوښتنې وکړې: دورځې څومره مریضان درته راځي ؟ یعنی د ورځې ګټه دی څومره ده؟ په کومه شفا خانه کښې نوکر یې؟
ډاکټر صاحب په ډیر مشکل وکولی شو چې د هوسی د ترور د یوې وقفې نه استفاده وکړی او ووایي: صاحب وبخښي د طب ډاکټر نه یم.
ماته خو ټولو ویلې وو چې ته ډاکټر یې.
ډاکټر یم مګر د طب نه.
یعني آشنایان دې درته په ټوکو ډاکټر وایي؟
نه زه د ډاکټرۍ شهادتنامه لرم.
نو څنګه ډاکټر یې چې معاینه خانه دې نشته او د ډاکټرۍ شهادتنامه لرې؟
زه د ادبیاتو ډاکټر یم.
یعنې چې څوک په ادبیاتو باندې پوهیږې او زمونږ ددې سندر غاړې غوندې ښه ښه شعرونه یې یاد وی یوازې د هغوی ډاکټری کوي او د بل چا نه؟
نه صاحب زه په ادبیاتو کښې ډاکټری لرم. دلته هوسي مداخله وکړه او خپلې ترور ته یې د ادبیاتو د ډاکټری د امکان په باب توضیحات ورکړل او ورته یې وویل: په نوی دنیا کښې د نورو شیانو ډاکټران هم شته، د هوسی ترور هماغسې په تعجب کښې وه غته جټکه یې خوړلې وه مګر ډاکټر صاحب نه یې بیاهم پوښتنه وکړه.
ښه څوکاله سبق دی ویلی؟
تقریبًا شل کاله.
څو کاله په یوروب کښې وی؟
اته کاله.
اوس دلته څه منصب لرې؟
استاد یم. یعنی معلم یې؟
هو!
د هوسی ترور د حلقې څخه پداسې عصباني حرکت پاڅیده چې پټول یې ګران کار و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هغې د وتو نه وروسته ډاکټر صاحب بیا وکولی شو چې خپل حواس را ټول کړي او د هوسۍ سره د خبرو لړ راونیسي:
دا ځومره ښایسته کمیس دی اغوستی دی، دا همدلته جوړ شوی؟
هو ټوټه یې د لندن څخه راغلی مګر جوړ شوی همدلته ده.
هوسی د ډاکټر صاحب سر و صورت خوښ خورا خوښ کړی و نو رانژدی شوه او ورنه یې وپوښتل:
د پاریس نه کله راغلی یې؟
دری څلور میاشتی کیږي.
ته همله وی چې د بریژیت بردو زوی وشو؟
نه، زه د فرانسی جنوب ته تللی وم.
عجب؟ ته څنګه په هغه وخت کښي د پاریس څخه د باندی تلی چې د بریژیت باردو زوی پیدا کیده؟
ډاکټر صاحب موسکی شو او وویي ویل: ما خو وویل چې زه د طب ډاکټر نه یم – بیا یې زیاته کړه: زه اصلا سینما ته ډېر وخت نه لرم.
ته نو ماښام څه کوی؟
کتاب لولم یا موسیقی اورم.
څومره کتاب لوستل ! څنګه دی زړه نه تنګیږی؟
زړه می چې تنګ شي کتا لولم.
والله عجیبه حوصله لری.
اوس خو دغسی ده نو.
اوس چې په سینما کښي نوی پیلم راغلی هغه دی لیدلی؟
نا مګر اوریدلی می دی چې د ارنست همینګویي په یوه قصه بنا دی تا هغه قصه لوستلی؟
نا ما خو فلم لیدلی.
مګر د کتاب لوستل بیل شی او د فلم لیدل بیل شی دی.
مقصد دا چې سړی د قصی نه خبر شي.
نا دا مقصد نه دی.
ښه څه ورک یې کړه دا قصه پریږده په کتابونو کښي خو ښه تکړه یې.
هر ماښام په پاریس کښي شانزه لیزی ته تللی؟
نا، کله کله.
دادی بله عجیبه؟ رقص دی زده دی؟
هو!
هره شپه به دی په پاریس کښي کړی وي؟
نا، کله کله.
دادی بله عجیبه.
د هوسۍ هم نوره حوصله تنګه شوه پاڅیده او یوي بلی حلقی ته ورنژدی شوه د ډاکټر صاحب د وجود نه د هوسی یوه بله ترور خبره شوه نویي خپلو خویندو ته وویل: څه کیږي که معلم دی که نور څه یي برابر وی بیخی درست دی، نو د ډاکټر صاحب حلقی ته راننوته او د واره یي ورنه پوښتنه وکړه:
تنخوا دي څومره ده؟
دوه زره روپی .
دا به ته څه شی کړی؟
آینده به ښه شي.
ښه کور لری؟
تراوسه پوری خو نا.
د هوسي بلی خور هم چې ډاکټر صاحب پریښودلو ورته یي وویل: دومره ځوک دی هم نه وو چې تاته یي ویلی وای: یو بل سبق وو ایه؟ په همدغه وخت کښي ډاکټر صاحب د یولیک د لیکلو عزم وکړ او هغه د پاریس ملګری ته د راتګ بلنه وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ